مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۲/۱۱/۲۴

# ...او «سر» دې پټ وساته

مګر ته نه وینې چې،

-دلته-

هر یو د فکر په اسهال اخته دی؟

هوا زهري ده

او وږمې لکه بربنډې ډمې،

په سرو اوښانو د راوړیو کتابو په حکم

حد د سنګسار ته پر زقوم ناستې دي.

پام کوه،

زلفې باد ته ونه سپارې!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ